

د ماشومانو حقونه

# د غوره ګټو ارزونه یعنې څه؟

**یو ماشوم (تر 18 کلنۍ ټیټ) کوم چې یوازې راغلی وي** داسې کس ورته ګومارل کېږي چې هغه ته سرپرست وایي او ورسره مرسته کوي.

- د غوره ګټو ارزونه هغه ناسته ده چې یو روزل شوی افسر په دقت سره تاسې ته غوږ نیسي او له تاسې پوښتنې کوي تر څو پوه شي چې څه شي **ته اړتیا لرئ تر څو خوندي واوسئ او پالنه مو وشي.**
- هغه څه چې تاسې یې دوی ته وایاست هغه به دوی سره مرسته وکړي تر څو **مهم تصمیمونه** ونیسي، ستاسې خوندیتوب، هوساینه او راتلونکې په ذهن کې ولري.

## دا ډول تصمیمونه ښایي

- کوم ډول طبي پالنه ستاسې لپاره حیاتي ارزښت لري.
- کوم ښوونځی یا کار ستاسې لپاره مناسب دی.
- چېرې به ژوند کوئ.
- څوک به ستاسې پالنه کوي.

## ستاسې سرپرست تاسې سره مرسته

- له چارواکو سره خبرې وکړئ.
- اپاینټمنټونو ته ولاړ شئ.
- دا زده کړئ چې څرنګه ملاتړیزو خدماتو ته لاسرسی ولرئ.
- د دې ځای د کلتور او ژوند په اړه زده کړئ.

## د ارزونې په درشل کې، افسر ته ووایاست که چېرې

- د ناروغتیا، خپګان، اندېښنې احساس کوئ یا دا چې کوم کس تاسې ته زیان رسوي.
- تاسې په اروپا کې کورنۍ لرئ.
- تاسې له کورنۍ سره یاست خو هغوی نه شي کولای یا نه غواړي چې تاسې سره مرسته وکړي.

**افسر ته ووایاست چې څه شی تاسې ته انګیزه او هیله درکوي.**

ټول هغه معلومات چې د غوره ګټو په ارزونه کې شریک کېږي هغه به محرم پاتې وي.



## په یاد ولرئ

- که چېرې تاسې د هغوی په ژبه نه پوهیږئ نو د یوه ژباړن غوښتنه وکړئ.
- د ارزونې پر مهال له تاسې سره د مرستې لپاره کولای شئ یو نارینه یا ښځینه افسر وټاکئ.
- ټول افسران باید له تاسې سره په درناوي چلند وکړي.
- هر چېرته چې کولای شئ له افسرانو سره همکاري وکړئ.

Pashto

EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

© پناه غوښتنې لپاره د اروپایي اتحادیې اداره، 2025